Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

دويم کال - ۴۱مه ګڼه | پرله‌پسې ۵۵مه ګڼه

(خبرپاڼه)

نېټه: ۱۴۰۴/۱۱/۲



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعاليتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستيو اقتصادي فعاليتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د حيرتان بندر له لارې د افغانستان د سوداګرۍ زياتېدل

۲- بنګله دېش ته د صنعت او سوداګرۍ وزارت پلاوي سفر

۳- د افغانستان او تاتارستان ترمنځ د سوداګرۍ د زياتوالي اټکل

# د حیرتان بندر له لارې د افغانستان د سوداګرۍ زیاتېدل

د افغانستان اسلامي امارت مسوولینو ویلي، په تېرو درېیو میاشتو کې د حیرتان بندر له لارې صادرات او واردات زیات شوي دي. په دې موده کې ۶۲ زره ټنه صادرات او ۹۸۵ زره ټنه واردات شوي دي، چې د ۱۴۰۴ کال د دویمې ربعې په پرتله په وارداتو کې ۶۲ سلنه او صادراتو کې ۴۰ سلنه زیاتوالی ښيي. له درېیو میاشتو ډېره موده کېږي چې افغانستان له پاکستان سره سوداګري درولې او بیرته پیل یې په قوي تضمین پورې مشروط ګرځولې دي. په همدې اساس د افغانستان اسلامي امارت مسوولینو د پاکستان لارو ته بدیلې لارې موندلې او پراختیا یې ورکړې ده، څو په هېواد کې د خوراکي او غېر خوراکي توکو کمښت رامنځته نه شي.



اوسمهال د حیرتان بندر له لارې له منځنۍ اسیا او چین سره د افغانستان سوداګرۍ د تېر په پرتله پراختیا موندلې ده. دغه راز، له دې لارې تر اروپا پورې د افغانستان توکي رسېږي. د حیرتان بندر کې سوداګریز شرکتونه شپه او ورځ کار کوي. له دې لارې سوداګرۍ کې ستونزې او خنډونه تر ډېره حل شوي، د ترانزیټي موټرو شمېر د پخوا په پرتله زیات شوی او د ویزو برخه کې هم ډېره اسانتیا رامنځته شوې ده.

د اسلامي امارت هڅې دي چې د پاکستان پر ځای یې نورو هېوادونو سره د اړیکو د پراختیا په پایله کې د افغانستان دوه اړخیزې سوداګرۍ حجم زیات شوی او په داخلي بازارونو کې هېوادوال له ستونزو سره نه دي مخ شوي. اسلامي امارت غواړي چې د سوداګرۍ په برخه کې پر یوه هېواد متکي پاتې نه شي او له پاکستان پرته د افغانستان د سوداګرۍ له پاره ډېر نور غوراوي هم ولري.

# بنګله دېش ته د صنعت او سوداګرۍ وزارت پلاوي سفر

د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت مرستیال مولوي احمد الله زاهد په مشرۍ یو پلاوي بنګله دېش ته سفر کړی دی.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت ویاند په وینا، د پلاوي د سفر موخه د دواړو هېوادونو




ترمنځ د سوداګریزو هوکړه لیکونو لاسلیک، بانکي اسانتیاوو رامنځته کول، د سوداګرۍ کچې لوړول او افغانستان ته د درملو او نورو توکو د وارداتو په اړه خبرې کول دي.

بنګله دېش ته د افغانستان اسلامي امارت د پلاوي سفر د اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسۍ پر بنسټ ترسره کېږي، څو له هغه هېواد سره د افغانستان سوداګریزو اړیکو ته پراختیا ورکړل شي او د شته سوداګرۍ کچه لا ډېره لوړه شي.

اوسمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګري کېږي، خو کچه یې ډېره نه ده. اسلامي امارت غواړي چې د بنګله دېش په ګډون د نړۍ له ټولو هېوادونو سره ښې سوداګریزې اړیکې ولري او له بنګله دېش سره اقتصادي همکاریو ته د همدې ښو

سوداګریزو اړیکو لړلو د پالیسی پر بنسټ پراختیا ورکړي.

بنګله دېش د افغانستان د سوداګرۍ له پاره ښه بازار کېدای شي، ځکه د افغانستان وچې او تازه مېوې او نور تولیدات او محصولات په نړۍ کې ښه شهرت لري او افغان سوداګر کولی شي چې د بنګله دېش له لوی بازار او ګڼ نفوس څخه په استفادې هلته خپل صادرات زیات کړي او اقتصادي ګټه ترلاسه کړي.

# د افغانستان او تاتارستان ترمنځ د سوداګرۍ د زیاتوالي اټکل

ځینو تاتارستاني رسنیو تمه ښودلې چې په ۲۰۲۶ کال کې به د افغانستان او د روسیې د تاتارستان جمهوریت ترمنځ اقتصادي همکاري زیاته شي.

د رسنیو د راپورونو پر بنسټ، په نږدې وخت کې به د تاتارستان یو پلاوی کابل ته سفر وکړي او په کابل کې به د تاتارستان د سوداګریزې استازولۍ په اړه هم خبرې وشي. موده وړاندې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کازان ۱۶مې غونډې کې د ګډون په موخه د تاتارستان جمهوریت ته سفر کړی و. په دې سفر کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د پانګونې او سوداګریزو اړیکو پر پراختیا خبرې شوې وې. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له سفر وروسته د تاتارستان جمهوریت یو لوړپوړی پلاوی کابل ته راغلی و او له افغانستان سره د سوداګریزو اړیکو د پراختیا او په مختلفو سکتورونو کې د پانګونې په اړه یې لېوالتیا څرګنده کړې وه.

تمه کېږي چې روان میلادي کال به د دواړو لورو ترمنځ د سوداګریزو اړیکو د پراختیا او په مختلفو سکتورونو کې د پانګونې له شته فرصتونو د استفادې او یو نوي پیل کال ثابت شي.

